# لړلیک


| ګڼه | | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | لومړۍ برخه: مایکروسکوپ، حجره، د حجرې جوړښت، دندې یې او د حجرې محیط | ۱ |
| ۲ | لومړی څپرکی: د حجرې مطالعه او د مایکروسکوپ ډولونه | ۲–۱۰ |
| ۳ | د لومړي څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۱۱–۱۲ |
| ٤ | دویم څپرکی: د حجرې جوړښت، پروکایوت او یوکاریوت حجرې او د یوکاریوت حجرو اورګانیلونه | ۱۳–۲۷ |
| ٥ | د دویم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۲۸–۳۰ |
| ٦ | دریم څپرکی: حجره او محیط یې، غیرفعال انتقال او فعال انتقال | ۳۱–٤۰ |
| ۷ | د دریم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ٤۱–٤۲ |
| ۸ | دویمه برخه: د حجرې میتابولیزم | ٤۳ |
| ۹ | څلوم څپرکی: ضیایي ترکیب | ٤٤–٥۸ |
| ۱۰ | د څلورم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ٥۹–٦۰ |
| ۱۱ | پنځم څپرکی: حجروي تنفس | ٦۱–٦٦ |
| ۱۲ | د پنځم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ٦۷–٦۸ |
| ۱۳ | شپږم څپرکی: د حجرې دوران او حجروي ویش | ٦۹–۸۰ |
| ۱٤ | د شپږم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۸۱–۸۲ |
| ۱٥ | دریمه برخه: بې شمزۍ حیوانات او د سیستمونو پرتله یې | ۸۳ |
| ۱٦ | اووم څپرکی: د بې شمزیو حیواناتو ډلبندي او عمومي ځانګړتیاوې | ۸٤–۱۰۸ |
| ۱۷ | د اووم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۱۰۹–۱۱۰ |
| ۱۸ | اتم څپرکی: د بې شمزیو حیواناتو د سیستمونو پرتله | ۱۱۱–۱۱۷ |
| ۱۹ | د اتم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۱۱۸–۱۲۰ |
| ۲۰ | څلورمه برخه: شمزۍ لرونکي حیوانات او د سیستمونو پرتله یې | ۱۲۱ |
| ۲۱ | نهم څپرکی: شمزۍ لرونکي حیوانات او د شمزۍ لرونکو حیواناتو ځانګړتیاوې | ۱۲۲–۱٥۰ |
| ۲۲ | د نهم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۱٥۱–۱٥۲ |
| ۲۳ | لسم څپرکی: د شمزۍ لرونکو حیواناتو د سیستمونو پرتله | ۱٥۳–۱٦٤ |
| ۲٤ | د لسم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۱٦٥–۱٦٦ |
| ۲٥ | پنځمه برخه: ایکالوژي (د ژوندو ترمنځ متقابل عمل او بایومونه) | ۱٦۷ |
| ۲٦ | یوولسم څپرکی: د ژوندو ترمنځ متقابل عمل | ۱٦۸–۱۷٤ |
| ۲۷ | د یوولسم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۱۷٥–۱۷٦ |
| ۲۸ | دولسم څپرکی: بایومونه | ۱۷۷–۱۸٥ |
| ۲۹ | د دولسم څپرکي لنډیز او پوښتنې | ۱۸٦–۱۸۷ |
| ۳۰ | اخځلیکونه | ۱۸۷ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت:**

موخه: په نبات کې د انتشار د عملیې کتنه.

د اړتیا وړ توکي: د نبات گل لرونکې تنه او ښیښه یي گیلاس، رنگ، مایکروسکوپ، سلایډ.

کړنلاره: د یو نبات تنه چې گل یې سپینې پاڼې ولري (د نرگس گل یا بل کوم نبات له ډندر سره) را واخلئ او له اوبو نه په یو نیمایي ډک ښیښه یي گلاس کې، په داسې ډول کېږدئ چې گل یې د گیلاس له اوبو څخه بهر وي. د گیلاس اوبوته د قلم رنگ یا بل کوم رنگ واچوئ. گیلاس په محفوظ ځای کې وساتئ. وروسته له څه وخته وگورئ چې څه پېښ شوي دي، بیا د نبات تنه د بېکر له رنگه اوبو څخه په پورته برخه کې پرې کړئ، مقطع یې د مایکروسکوپ پواسطه وگورئ او پایله یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**لنډ فعالیتونه:**

موخه: د محیطونو په توپیر سره د کچالو په حجرو کې د اوبو د انتقال کتنه.

د اړتیا وړ توکي: کچالو، خالصې اوبه، مالگینې اوبه، مالگه.

کړنلاره:

١- په خالصو اوبو کې د کچالو څو ټوټې واچوئ.

٢- د کچالو یو څو ټوټې راواخلئ او په مالگینو اوبو کې یې واچوئ .

٣- د کچالو په څو ټوټو باندې خالصه مالگه ودوروئ.

٤- عملیه تعقیب کړئ. پایله یې په کتابچو کې ولیکئ او په ټولگي کې پرې بحث وکړئ؟

## د اسموس د عملیې اهمیت:

د حیواناتو او نباتاتو حجرې او انساج د داسې پردې په واسطه پوښل شوي دي چې نیمه قابل نفوذ ده. نو له همدې کبله د ژوندیو موجوداتو د ژوند د فعالیتونو لپاره د اسموس عملیه ډېره مهمه ده؛ ځکه چې خوراکي توکي یا نور د اړتیا وړ توکي د اسموس د عملیې په واسطه د بدن حجرو ته ننوځي. مثلاً: وینې ته د گټورو خوراکي توکو جذب یا په نباتاتو کې د ریښې له لیارې د موادو جذب د اسموس د عملیې په واسطه سرته رسېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کرۍ لرونکو چینجیانو ځانګړتیاوې:

- دوه اړخیزه تناظر (ilaterally Symmetry) لري.
- پرته د ژورو څخه د ډېرو بدن د سیټا په نامه کېتیني hitin تارونه لري.
- بدن یې د نمجن او نازک کېوتیکل په واسطه پوښل شوی دی.
- د هاضمې کانال یې ټیوب ته ورته دي چې د بدن په اوږدو کې غځېدلی دی.
- د وینې تړلی دوران لري.
- تنفس د پوټکي یا برونش په واسطه کوي.
- اطراح لپاره په هره کرۍ کې یو جوړه نفریدیا (ephridia) لیدل کېږي. اطراحي مواد له عمومي خالیګاه او ویني څخه اخلي او مستقیماً یې بهرته غورځوي.
- عصبي جهاز یې یوه جوړه مغزي غوټې (مغز) او د ګیډې غبرګ عصبي تناب څخه عبارت دی. همدارنګه حسي حجرې او حسي غړي یې د څکلو، لیدلو او نورې دندې سرته رسوي.

### اضافي معلومات:

د کرۍ لرونکو چینجیانو ډلبندي:

دا حیوانات د ویښتانو د لرلو اونه لرلو له مخې په لاندې ټولګیو ویشل شوي دي.

۱- د پولي شېټا Polychaeta ټولګی: ډېر شېټا لري. سمندري حیوانات دي. بېلګه یې نایرس براني irus brani دی. د کالیفورنیا د بحریه غاړو کې پیدا کېږي. (۷-۷) شکل



(۷-۷) شکل: نایرس بروني

۲- د اولیګوشېټا ligochaeta ټولګی: لږ ویښتان لري. په خوږو اوبو او نمجنو ځایونو کې ژوند کوي. بېلګه یې د ځمکې چینجی دی.

۳- د هیرودینا Hirudinea ټولګی: ددې ټولګي حیوانات شېټا نه لري. په خوږو اوبو کې ژوند کوي بېلګه یې ژوره ده.

٤- د ارکې انلیدا ټولګی: ټول سمندري دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## **سل پښی یا ځنځه** (Class Chilopoda, Centipedes):

(۲٤ - ۷) شکل کې څه شی وینئ؟ ایا دا حیوانات زهري دي که بې زهرو؟ زیانمن حیوانات دي یا ګټور؟

سل پښی اوږد استوانه یي کړی کړی بدن لري.

په سر کې یوه جوړه اوږده ښکرونه، یوه جوړه لاندینی او دوه جوړې پاسنی ژامې وي. په بېلابېلو نوعو کې د کړیو شمېر له ۱۵ څخه تر ۱۷۳ کړیو (Somites) پورې رسیږي. په لومړنی کړی کې یې یوه جوړه زهري منګولې دي. غوښه خوړونکي حیوانات دي. حشرې او چینجیان خوري. ښکار د زهرو په وسیله بې هوښه کوي او خوري یې. ځینې هګی اچوي او ځیني یې بچیان راوړي. د حاره سیمو سل پیښی تر (۱۰-۱۲) سانتي مترو پورې اوږدو والی لري .ځینې یې د انسان لپاره خطرناکې او زهري دي کورنی سل پیښی ۱۵ جوړې پښې لري. چټک خوځښت کوي. حشرې خوري انسان نه چیچي.



(۲٤ - ۷) شکل: سل پښی



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داووم ځپرکي لنډيز

بې شمزۍ حيوانات هغه حيوانات دي چې هډوکي نه لري. په اتو فايلمونو ويشل شوي دي.
مولسکا لاتين کلمه ده، د نرم په معنا ده. دا حيوانات د منتل entle په نوم د يو اهکي پوښ په واسطه پوښل شوي دي. راديولا adula په نامه ارې ته ورته جوړښت يې د ژبې دنده سرته رسوي. ددې حيواناتو د بدن خاليگاه oelom کوچنۍ ده.

• انليدس (nneledus) لاتيني کلمه ده، د کوچنيو کړيو په معنا ده. ددې حيواناتو د بدن ټولې کړۍ يو شان دي. دا حيوانات د سيټا Setae په نوم کېتني hitin ويښتان لري.

• littelum د ځمکې په چينجي کې (۳۲-۳۷) کړۍ پورې هغه پړسيدلې جوړښت دې چې هگۍ په کې انکشاف کوي. ايکاينو chino يوناني ژبه کې اغزو ته ورته او erm د پوټکي په معنا دی.

• راډيال سميتريک adial Symmetric يعنې شعاعي تناظر او ascular ater System يا د اوبو انتقالي سيستم دی.

• ارترو rthro په يوناني ژبه کې د کړۍ يا مفصل او Poda د پښو په معنا دی. د مفصليه حيواناتو خارجي سکليټ د hitin له مادې څخه جوړ دی.

• iparous هگۍ اچوونکي او i iparous بچي اچوونکي او o i iparous هگي اچونکي بچي اچونکي دي. پارتينوجينيسيس Parthenogenesis د القاح څخه پرته د ښځينه گميټ وده او انکشاف له عمليې څخه عبارت دی.

• rust لاتين کلمه ده د سخت پوټکي معنا لري او Insect په لاتين کې په (مختلفو برخو ويشل شوي) په معنا دی.

• د حشرو علم د (ntomology) په نامه ياديږي. د حشرو بدن له دريو برخو: سر، سينې، او گيډې څخه جوړ دې. په ځينو ارترويودا کې سر او سينه يو ځاې وي چې د سفالو توارکس په نامه ياديږي.

• غنه، لړم، غونډل، کنه د عنکبوتيانو په ډلې کې دي. سل پيښې زهري او غوښه خوړونکي دي. زرپښې واښه خوړونکي او بې زهرو دي.

ډول کبان شته دی، چې د برونش او سږو په وسیله تنفس کوي. د ډیپنو ipnoi( ) په نامه یو ډول کبان دي چې سږي لري. پرته د څو ډولونو نور د ټولو کبانو پوټکي د پترو یعنې فلسونو په واسطه پوښل شوي دي. بدن یې په دریو برخو ویشل شوی دی؛ چې له سر، ملا (تنه) او لکۍ څخه عبارت دي. زړه یې دوه جوفونه (یو دهلیز او یو بطن) لري. کبان هګۍ اچوونکي دي. ځینې یې هګۍ اچوونکي بچي اچوونکي دي.

## د کبانو ډولونه:

تاسو څو ډوله کبان پیژنئ؟

کبان ډیر ډولونه لري. د بیولوژي پوهانو کبان د جوړښت له مخې په دریو ډولونو ویشلي دي.

۱- ګرده خوله (yclostoma ) یا بې ژامو کبان gnatha .

۲- کرپندوکي لرونکي (غضروفي) کبان، ۳- هډوکي لرونکي کبان.

**۱- دګردې خولې کبان**: په یوناني ژبه کې yclo ګرده او Stoma خولې ته وايي. دا حیوانات استوانه یي بدن، پلنه او نرۍ لکۍ لري. پوټکی یې نرم او صاف دی. ژامې او حرکي غړي پکې نه لیدل کېږي. نوتوکورد د ژوند تر پایه په کې پاتې کېږي، خوله یې رودونکې ده. تنفس د (۵-۱٤) جوړو برانشي ګومنځو په واسطه کوي. القاح یې بهرنۍ ده. په خوږو یا په تروو اوبو کې ژوند سرته رسوي. بیلګې یې لمپري (amprey ) او هګ فش Hygfish دي.




لمپري (۱-۹) شکل: د ګردې خولې کبان هګ فش



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ذوحیاتین (Amphi ian):

ذوحیاتین عربي کلمه ده. ذو د (خاوند) او حیاتین (دوه ژونده) په معنا دی. په لاتین کې امفي بایوس (mphibios ) د دوه ژونده (وچې او اوبو) په معنا دی. دا حیوان په اوبو او وچه دواړو کې ژوند سرته رسوي. د ذوحیاتینو ډولونه عبارت دي، له:

الف: بې لکۍ ذوحیاتین، بېلګې یې: چونګښه (rog ) او Toad.

ب: لکۍ لرونکي ذوحیاتین، بېلګه یې: سلمندر (Salamandar) او نیوټس (e ts).

ج: بې پښو ذوحیاتین، بېلګه یې: aecillian .



ب: سلمنډر



الف: تاود



ب: نیوټس



ج: سي سیلیان

(٦-٩) شکل: د ذوحیاتینو ډولونه



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیکونه


١ i e Science Teacher dition Holt inehart and inston ٢٠٠٦ Harcourt ducation ompany

٢ iology The ynamic o i e Science aniela luestein ٢٠٠٤

٣ iology Sal ias ader ٧th edition ٢٠٠١ c ra Hill

٤ Holt iology Teacher dition ohnson and a en ٢٠٠٦ S

٥ iology n eryday perience lbert as el Paul Hummer r ١٩٩٩ e or

٦ iology TH I S I S I lton iggs hris apic a inda undgren ٢٠٠٤

٧ iology oncepts onnections Third dition eil ampbell a rence itchell ane eece ١٩٩٤

٨ ampbell eece iology ighth dition ampbell eece rry ain asserman inors y ac son ٢٠٠٨

٩ iology P I lbert as el Paul Hummer r uc aniel ١٩٩٩

١٠ iology The Study o i e Third dition llyn and acon ١٩٩٠

١١) حیاتیات P ، ټکسټ بوک بورډ پشاور،

مؤلفین: پروفیسر محمد اکرم، صیغم حسن، پروفیسر مسز صفیه گل.

١٢) حیاتیات P ، ټکسټ بورډ بوک بورډ پشاور،

مؤلفین: پروفیسر ډاکټر ناهید علی، پروفیسر منظری، پروفیسر عبدالغنی.

١٣) الاحیاء للصف الثاني الثانوي العلمي، ١٩٩٦

مؤلفین: إبراهیم علي دوعر، د. شتیوي صالح العبدالله، عبدالقادر مصطفی عیسی، فاتن حنا مقطش الدقم، د.أحمد محمد الدیسي (محرراً).

١٤) العلوم الحیاتیة للمرحلة الثانویة/ الفرع العلمي، ٢٠٠٦

مؤلفین: د. فلاح حسن شدیفات، عطاف عایش الهباهة، نهاد عبدالفتاح صالح، میسون عبد علي یاسین

١٥) جانورشناسی عمومي جلد: اول، دوم، سوم و چهارم،

مؤلف: ډاکټر طلعت حبیبي ١٣٨٦.

١٦) زیست شناسی عمومی ١٣٨٥، تألیف: ډاکټر حسن زارع.

١٧) زیست شناسی آزمایشگاه ٢ ، ١٣٨٥،

مؤلفین: محمدکرام الدین، شهریار غریب زاده، وحید نیکنام، الهه علوی، سید علي ال محمد، مریم انصاری.

